# په تاسو کې چې کله يو څوک ومري، نو سبا او بېګا به يې ورته ځای وښودل شي

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «په تاسو کې چې کله يو څوک ومري، نو سبا او بېګا به يې ورته ځای وښودل شي که د جنت له خاوندانو و نو په جنت کې به يې ځای وروښودل شي او که له دوزخيانو څخه و نو په دوزخ کې به يې ځای وروښودل شي، ورته به وويل شي: دا دې ځای دی تر دې چې الله تعالی دې د قيامت په ورځ راپورته کړي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبرورکوي چې بنده کله مړ شي نو د ورځې په سر او په پای کې به يې په جنت او يا دوزخ کې ځای وروښودل شي؛ که جنتي وي نو ځای به يې په جنت کې وروښودل شي، او که دوزخي وي، نو ځای به يې په اور کې وروښودل شي او ورته به وويل شي: دا ستا هغه ځای دی چې د قيامت په ورځ به ورته راپورته کېږې؛ نو پدې سره مؤمن راحتېږي او کافر عذابېږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/11210